



د پرنجي أحكام

لغة البشتو



د پرنجي أحكام

- پرنجي: له پوزې څخه په سختئ سره د کوم عارض لأمله د هوا خارجيدل دي.
- په دي کي ډيری ګټې دي چي معاصر طب لخوا ثابت شوي، او د پرنجي لپاره هم يو څه شرعي احکام او آداب دي، چه د ځيني د هغي نه دا دي چې:
- الله تعالی پرنجی خوښوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: الله تعالی پرنجی خوښوي.
- په حديثنو کې له پرنجي وروسته الحمد لله د صيغي يادونه شوي.
- او په دې کې په بنده باندې د الله تعالی عظيم فضل ته اشاره ده.
- چي د پرنجي په نعمت سره يي تري ضررونه لرې کرل.
- بيا يې ورته شکر کول مشروع وګرځول تر څو اجر ورته پرې ورکړل شي او خير دعا يې ورته وکړه.

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: کله چې په تاسو کې يو تن پرنجی وکړي نو الحمد لله دي ووايي، او د هغه ورور يا ملګرى دې ورته يرحمك الله ووايي، کله چي ورته ملګرى يرحمك الله ووايي نو دا دي ورته يهديكم الله ويصلح بالكم ووايي.

- دا د مسلمان حق دی چې کله پرنجي وکړي الحمد لله ووايي: مسلمان ورور به ورته یرحمک الله ووایی.
- او يرحمك الله ويل هغه ته د خير دعا كول دي.
- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: که په تاسوکي يو تن پرنجی وکړي او الحمد لله ووايي هر مسلمان چې واوري، په هغي حق دی چې: يرحمك الله ورته ووايي.
- يرحمك الله معنا دا چي الله تعالی دي ستا لپاره د تل لپاره دغه سلامتيا وګرځوي
- د پرنجي كوونكی بايد بيرته په ځواب كي يهديكم الله ويصلح بالكم ووايي.
- او څوک چې د پرنجي وروسته الحمد لله نه وايي هغه ته دې يرحمك الله نه وايي.
- او كه چا نه په هيره سره الحمد لله هېر شي بايد حاضر كس دي ورته ورياد كري.
- كه څوک له دري ځله نه زيات پرنجی وکړي، نو هغه ته دي هم یرحمک الله نه وایی، بلکي هغه ته وايي چې الله تعالی دي تاته شفا درکري ته خو زكام يي.
- او كه د جمعي د خطبې پر مهال امام پرنجي وكړي، په تيت اواز دي الحمد لله ووايي، كه هغه په لوړ اواز الحمد لله ووايي، نو مقتديان دي ورته يرحمك الله نه وايي.
- او كه امام پرنجی وکړي او په لوړ آواز الحمد لله ووايي كه امام د پرنجي

لپاره چوپ پاتي شي بیا باك نه كوي كه يرحمك الله ورته ووايي، او كه چپ پاتي نشو، نو يرحمک الله به ورته نه وايي ځكه خطبه شروع ده.

- او كه يو غير مسلم پرنجى وکړي او الحمد لله ووايي او مسلمان يې واوري نو ورته ودې ووايي: الله تعالی دې تاته هدايت وکړي او الله تعالى دې تاته عافيت درکړي ځكه چې يهودو به رسول الله صلى الله عليه وسلم خواته پرنجی كول، په دې هيله چې هغه به ورته يرحمک الله ووايي.
- هغه به ورته ويل: چې "الله تعالی دې تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو كارونه الله تعالى سم كړي.
- او څوک چې بين الخلاء ته داخل شي د چا د پرنجی ځواب ويل ورته مكروه دي، او څوک چې پخپله بيت الخلاء کې پرنجی وکړي په ژبه باندې الحمد لله ويل ورته مكروه دي.خو زړه كې ويل ورته جايز دي
- پرنجی كوونكى بايد د پرنجي اواز ښكته كړي,او په الحمدلله باندې دې اواز اوچت كړي او خپل مخ دې پټ كړي, تر څو نړدې ملګري ته تكليف ونه رسوي
- او خپل څټ دې ښي او چپ طرف ته نه ګرځوي. تر څو چاته ضرر ونه رسيږي.